مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۴۸** (از ۵ الی ۱۲ جدی ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه........ ۲

### از سفر راحیل شریف به کابل تا نشست چهارجانبه

- بازگشت به مذاکرات صلح........ ۴
- آیا سیاست پاکستان تغییر کرده است؟........ ۴
- مشکلی بنام "رابطه با هندوستان"........ ۵
- نشست چهارجانبه........ ٦

### د طالبانو او روسيې نږدې کېدونکې اړيکې

- طالبان-روس اړيکې؛ د طالبانو د واکمنۍ پرمهال........ ۹
- طالبان-روس اړيکې؛ ۲۰۰۱-۲۰۱۴........ ۱۰
- داعش ډله؛ ګډ ګواښ........ ۱۱
- پر افغان سياسي-امنيتي منظره د داعش ډلې اغېزې........ ۱۲
- د طالبانو-روسيې تماسونه او پر کابل-ماسکو اړيکو يې اغېزې........ ۱۲

## مقدمه

د افغانستان او پاکستان د اړیکو له څو میاشتني ترینګلي وضعیت وروسته، یو ځل بیا د پاکستان د پوځ لوی درستیز جنرال راحیل شریف کابل ته راغی. د نوموړي د سفر اصلي موخه د هغو ژمنو تعقیب دی، چې ولسمشر غني ته په اسلام‌آباد کې د آسیا زړه کنفرانس پرمهال ورکړل شوې وې.

کابل ته د راحیل شریف د سفر پر مهال پرېکړه وشوه، چې د سولې خبرو د بیا پیل په موخه به، په جنورۍ میاشت کې د افغانستان، پاکستان، امریکا او چین څلور اړخیزه غونډه جوړه شي. که څه هم پر افغان حکومت داسې نیوکې کېږي، چې د افغان سولې بهیر په تړاو د پاکستان پر ژمنو بیا بیا باور کوي، خو لا یې هم کومه رغنده پایله نه ده ترلاسه کړې. دا چې د راحیل شریف وروستی سفر او په نژدې راتلونکي کې د دغو څلوراړخیزو غونډو پیل څه پیغامونه له ځان سره لري، دلته پرې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې له طالبانو سره د روسیې د تماسونو په اړه لولئ. څو ورځې وړاندې د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف وویل، چې د داعش ډلې د ګواښ مخنیوي لپاره یې له طالبانو سره تماس نیولی؛ مګر طالبانو بیا د داعش ډلې پر ضد د مبارزې په چاره کې له روسیې سره تماسونه رد کړل. که څه هم د افغانستان بهرنیو چارو وزارت تراوسه په دې اړه رسمي غبرګون نه دی ښودلی، خو ولسي جرګې بیا پر دې موضوع تونډ غبرګون وښود.

له دې سره هم‌مهاله داسې راپورونه هم خپاره شول، چې د روسیې ولسمشر د طالبانو له رهبر ملا اختر محمد منصور سره په سپټمبر میاشت کې په تاجکستان کې کتلي دي. که څه هم دا راپورونه طالبانو او روسي چارواکو رسماً نه دي تایید کړي. مسکو د افغانستان په تړاو بېلابېلې اندېښنې لري او له همدې امله هڅه کوي، د افغانستان په قضیه کې ځان رادخیل کړي. پوښتنه دا ده، چې روسیه ولې له طالبانو سره د اړیکو جوړولو هڅه کوي؟ او دا اړیکې او تماسونه به د کابل-مسکو په اړیکو څه اغېزې وښندي؟

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل بورډ، شنني او څېړني لولئ.

# از سفر راحیل شریف به کابل تا نشست چهارجانبه



روز یکشنبه 27 دسامبر جنرال راحیل شریف لوی درستیز قوای نظامی پاکستان برای سفر یک‌روزه و دیدار با مقامات افغان، به کابل آمد. سفر وی به دنبال سفر نرندرا مودی صدراعظم هند به افغانستان صورت می‌گیرد که وی ساختمان جدید پارلمان افغانستان را که به کمک هندوستان اعمار گردیده است، افتتاح نمود. پاکستانی‌ها همیشه در برابر سفر مقامات هندی به افغانستان، حساس بوده‌اند.

قرار بود سفر راحیل شریف قبل از برگزاری کنفرانس قلب آسیا صورت گیرد؛ اما به دلیل تنش در روابط دو کشور، این سفر به تعویق افتاد.

بعد از سفر راحیل شریف به کابل، مقامات پاکستانی از مذاکرات چهارجانبه میان امریکا، چین، پاکستان و افغانستان در نیمه‌ای دوم ماه جنوری در اسلام‌آباد خبر دادند که موضوع صلح در افغانستان را مورد بحث قرار خواهد داد.

## بازگشت به مذاکرات صلح

نشست قلب آسیا در اسلام‌آباد و شرکت اشرف غنی در این نشست، نمایانگر تحرک تازه در روابط میان افغانستان و پاکستان تلقی شد و این امید را به میان آورد که شاید تحرکی جدید در روابط میان دو کشور به میان آید. بعد از حملات خونین در کابل به خصوص حادثۀ شاه شهید، رئیس جمهور غنی بارها از سیاست پاکستان در قبال افغانستان انتقاد کرد، اما به نظر می‌رسد که پاکستانی‌ها مانند گذشته این اعتراضات افغانستان را مقطعی و موسمی می‌دانستند و نظر به مشکلاتی که افغانستان با آن دست به گریبان است، به این باور بودند که نیازمندی‌های افغانستان به این کشور اجازۀ تنش طولانی‌مدت در روابط با اسلام‌آباد را نمی‌دهد و منتظر فرصت مساعد برای دلجویی از اشرف غنی بودند.

این فرصت در کنفرانس قلب آسیا در پاکستان فراهم آمد و استقبال گرم مقامات پاکستانی از اشرف غنی موجب شد تا افغانستان بار دیگر از مذاکرات صلح با طالبان، با وساطت پاکستان ابراز آماده‌گی نماید.

سفر اشرف غنی به اسلام‌آباد و سخنان وی در کنفرانس قلب آسیا، موجب اعتراضاتی در میان سیاست‌مداران افغان گردید و حتی استعفای رحمت الله نبیل رئیس امنیت ملی نیز با همین مسئله پیوند داده شد، هرچند از مدت‌ها قبل خبر از اختلاف میان نبیل رئیس امنیت ملی و حنیف اتمر مشاور امنیت ملی به گوش می‌رسید. روزنامه‌های پاکستان کنار رفتن نبیل از مقام ریاست امنیت ملی را برکناری یکی از مخالفین حکومت پاکستان از حکومت افغانستان دانسته و از آن استقبال کردند.

## آیا سیاست پاکستان تغییر کرده است؟

پاکستان در رابطه به افغانستان سیاست پیچیده‌ای را دنبال می‌کند که در اکثر موارد نمایانگر تناقض ژرف میان گفتار و عمل مقامات این کشور در مورد افغانستان را به وضاحت نشان می‌دهد و همین مسئله نیز موجب شده تا روابط میان افغانستان و پاکستان در طول چهارده سال گذشته وقفه‌هایی از گرمی و سردی را تجربه کند. اگر به نوسانات روابط میان دو کشور در طول سال‌های پس از حملۀ امریکا به افغانستان نگاه کنیم، هر دوره از گرم‌تر شدن روابط، دورۀ سردی و تشنج در دور بعدی را به دنبال داشته است.

اینکه روابط میان دو کشور هیچ‌گاه به صورت مستمر به یک روال خوب یا بد نبوده است، ما را به این نتیجه می‌رساند که این سیاست اسلام‌آباد طولانی‌مدت بوده و بر بنیاد استراتژی این کشور در قبال افغانستان، عیار شده است. چنین سیاست را می‌توان سیاست "انتظار" نامید که پاکستان در آن به عنصر "زمان" برای دسترسی به آیندۀ دلخواه، نیاز

دارد. بر بنیاد این سیاست، پاکستان هرزمانی که تحت فشار قرار گیرد تا تعهدی را در قبال افغانستان بپذیرد، دست به کاری می‌زند که جانب افغانستان مجبور به مخالفت گردد و به این ترتیب هم پاکستان از زمان به نفع خود استفاده نماید و هم مسؤولیت سردی روابط میان دو کشور به دوش افغانستان گذاشته شود. در این رابطه پاکستان چنان ماهرانه عمل می‌کند که حتی شلیک راکت و توپ از جانب آن کشور به مناطق سرحدی افغانستان، نیز از جانب امریکا به عنوان اقدامی علیه "تروریزم" به شمار می‌آید و اعتراض افغانستان نادیده گرفته می‌شود.

در سفر اخیر راحیل شریف به کابل، جانب پاکستان نه تنها وعده داد که به پروسهٔ صلح در افغانستان کمک خواهد کرد بلکه تاکید کرد که آنهایی را که با پروسهٔ صلح مخالفت کنند، سرکوب خواهد نمود. شاید همین مسئله موجب دلگرمی حکومت افغانستان برای نزدیک‌تر شدن مجدد به پاکستان شده باشد.

## مشکلی بنام "رابطه با هندوستان"

پاکستان در طول چهارده سال گذشته به دلایل مشکلات اقتصادی، سیاسی و امنیتی، در برابر رقیب اصلی خود هندوستان ضعیف‌تر شده است. هند در طول این سال‌ها با اقتصاد پویای خویش در سطح بین‌المللی به اعتبار خویش افزوده و مبدل به یکی از اقتصادهای بزرگ آسیا شده است، در حالیکه پاکستان در این مدت چهرهٔ کشوری را از خود به نمایش گذاشته که درگیر خشونت است.

هند در طول چهارده سال گذشته کمک‌های زیادی به افغانستان نموده و نه تنها در میان دولت‌مردان بلکه در میان مردم عام افغانستان نیز چهرهٔ یک دوست خوب و صادق را به خود اختصاص داده است.

همزمان با سفر صدراعظم هند به کابل، بعضی از رسانه‌ها در پاکستان بار دیگر به وجود بیش از ده قونسلگری هندوستان در افغانستان که گویا علیه پاکستان مشغول فعالیت های جاسوسی اند، اشاره داشتند از جمله اینکه قونسلگری هند در قندهار جدایی‌طلبان بلوچ را علیه پاکستان کمک می‌کند.

به نظر می‌رسد که مشکل اصلی پاکستان در افغانستان، نقش هندوستان در این کشور است؛ اما در این اواخر تلاش‌هایی به منظور بهبود روابط میان دو کشور در جریان بوده که می‌تواند روی اوضاع افغانستان نیز تاثیر مثبت داشته باشد.

در کنفرانس قلب آسیا موضوع اصلی و محوری، تلاش در جهت کاهش در تنش میان هند و پاکستان بود و به نظر می‌رسد که در این کار تاحدی پیشرفت صورت گرفته است. بعد از سفر نرندرا مودی صدراعظم هند به کابل، وی به

صورت غیرمترقبه مستقیما از کابل عازم لاهور شد تا دیداری با نوازشریف همتای پاکستانی خود داشته باشد. این دیدار به حدی غیرمترقبه بود که بسیاری از مقامات بلندپایهٔ پاکستان حتی سرتاج عزیز مشاور امور بین‌المللی صدراعظم پاکستان نیز از آن اطلاع نداشتند و به همین دلیل نیز قادر به شرکت در مهمانی که نوازشریف به افتخار صدراعظم هند ترتیب داده بود، نشدند.

قبل از این سفر، آغاز کار خط لولهٔ گاز "تاپی" که قرار است گاز ترکمنستان را از طریق افغانستان و پاکستان به هند برساند، زمینهٔ همکاری خوبی را میان این دو کشور رقیب در منطقه فراهم آورده است. اینها همه نشانه‌های خوب از کاهش تنش‌ها در منطقه است که می‌تواند روی اوضاع امنیتی در افغانستان تاثیرگذار باشد.

## نشست چهارجانبه

بعد از سفر راحیل شریف به کابل، سرتاج عزیز مشاور امور بین‌المللی صدراعظم پاکستان گفت که به زودی نشست چهارجانبه شامل کشورهای افغانستان، پاکستان، ایالات متحدهٔ امریکا و چین، در اسلام‌آباد برگزار خواهد شد. وی گفت که در این نشست چهارجانبه، کمیتهٔ چهارجانبه به منظور نظارت و ارائهٔ راه‌کاری برای مذاکرات صلح افغانستان، تشکیل خواهد شد.

سخنان سرتاج عزیز می‌تواند ذهن را به یک نکتهٔ مهم جلب نماید؛ در حالیکه حکومت افغانستان همیشه مدعی بوده که در مذاکرات صلح باید حکومت افغانستان نقش اول و تعیین کننده داشته باشد، پس چرا قبلا مقامات افغان هیچ‌گاه از امکان تدویر یک کنفرانس چهارجانبه در مورد افغانستان سخن نگفته بودند؟ دلیل این امر می‌تواند بی‌خبری افغانستان از تصامیمی باشد که در رابطه با افغانستان بین کشورهای دیگر صورت می‌گیرد و افغانستان بعد از دیگران و حتی بعد از پاکستان در جریان آن قرار داده می‌شود.

اما افغان ها یک بار طعم تلخ چنین نشست چهارجانبه را چشیده‌اند. در آستانهٔ خروج نیروهای اتحاد شوروی از افغانستان، کنفرانس چهارجانبه در ژنو به منظور تامین صلح در افغانستان، میان کشورهای امریکا، پاکستان، حکومت کابل و اتحاد شوری برگزار گردید و آیندهٔ شومی را برای افغانستان رقم زد. در این کنفرانس چهارجانبه، هیچ نماینده‌ای از مجاهدین شرکت نداشت و در حقیقت پاکستان از آن‌ها نمایندگی می‌کرد.

اکنون افغانستان بازهم در آستانهٔ یک کنفرانس چهارجانبهٔ دیگر قرار دارد که با همان تجربهٔ ناکام روی دست گرفته خواهد شد، فقط با این تفاوت که جای اتحاد شوروی سابق را چین گرفته است.

قرار است این چهار کشور در غیاب طالبان در مورد برنامۀ صلح حکومت افغانستان با مخالفین مسلح تصمیم بگیرند و راه‌کاری را برای صلح در افغانستان تصویب نمایند. این درحالیست که سازمان ملل متحد یک بار دیگر تحریم‌های نافذه بر طالبان را برای یک سال دیگر تمدید نمود.

طالبان ضمن نکوهش این اقدام سازمان ملل متحد، این کار را مانعی سر راه صلح در افغانستان خوانده‌اند. بخشی از این تحریم‌ها نام‌های‌رهبران طالبان را در لیست سیاه قرار داده است.

از جانب دیگر این نکته نیز جای سوال دارد که پاکستان کدام گروه از طالبان را به میز مذاکرات حاضر می‌سازد؟ اگر به نمایندگی از طالبان کسانی به مذاکرات آورده شوند که نمایندگی از جبهات جنگ طالبان نداشته باشند، چنین مذاکرات چه نفعی به حال مردم افغانستان خواهد داشت؟

در محیطی چنین مملو از تناقض و ابهام، آیا می‌توان به مذاکراتی که برآیند آن صلح برای این کشور جنگ زده باشد، امید بست؟

# د طالبانو او روسيې نږدې کېدونکې اړیکې




له تېرو دوو اوونيو راهيسې، په کورنيو او نړيوالو رسنيو کې د طالبانو او روسيې د نږدې کېدونکو اړيکو موضوع توده وه. دا موضوع وروسته له هغه راپورته شوه، چې په افغانستان کې د روسيې پخواني سفير او د افغانستان لپاره د روسيې ځانګړي استازي ضمير کابلوف له انټرفاکس خبري آژانس سره په مرکه کې وويل، چې د داعش پرضد مبارزه کې له طالبانو سره په اړيکه کې دي.

د ضمير کابلوف له څرګندونو وروسته په لوېديزو رسنيو کې داسې خبرونه هم خپاره شول، چې د روسيې ولسمشر ولادمير پوتين او د طالبانو مشر ملا اختر محمد منصور هم د تېر کال په سپټمبر مياشت کې، په تاجکستان کې سره کتلي دي.

دا چې د طالبانو او روسيې د اړيکو شاليد څه دی، دا اړيکې له کومو پړاوونو تېرې شوې، اوسمهال د کومو لاملونو له کبله د نږدې کېدو په لور رواني دي؟ او دا ډول تماسونه به د کابل-ماسکو پر اړيکو څه اغېزه وکړي؟

## طالبان-روس اړيکې؛ د طالبانو د واکمنۍ پرمهال

د ډاکتر نجيب د حکومت له ړنګېدو وروسته، په افغانستان کې د روسانو ستراتيژۍ هم بدلون ومومند او په لومړي ځل يې له مجاهدينو سره د همکارۍ مزي وغځول. د طالبانو له راتګ سره، د مجاهدينو په تېره بيا د شمال جبهې او روسانو ترمنځ اړيکې نورې هم پراخې شوې.

د طالبانو د واکمنۍ پرمهال په اسلام‌آباد کې د روسيې او طالب استازو ترمنځ خبرې پيل شوې او له هغه وروسته هم، په بهرنيو چارو وزارت کې د هغه مهال د روسيې-ميز د مدير په اند، څو ځله روسانو وغوښتل، چې له طالبانو سره اړيکې ټينګې کړي. په ۱۹۹۷ کال کې روسانو په اسلام‌آباد کې طالبانو ته ويلي وو، چې له خپلو مخالفينو سره خبرې اترې وکړي او تر ټولو مهمه دا چې، کابل ته د چيچن د استازو د راتګ له کبله يې له طالبانو دا هم وغوښتل، چې د روسيې ځمکنۍ بشپړتيا ته درناوی وکړي[1].

په ۱۹۹۸ کال کې پر افغانستان د امريکا له توغنديزو بريدونو دوه ورځې وروسته، په متحده عربي اماراتو کې د افغانستان سفارت کابل ته خبر ورکړ، چې روسان غواړي د الکساندر اوبلوف په مشرۍ يو پلاوی کابل ته ولېږي او په کابل کې د روسيې سفارت بيا پرانيزي. ورته راپور په پاکستان کې افغان سفارت هم کابل ته ورکړ؛ خو دغه سفر بيا ونه شو[2].

هغه مهال د روسانو د اندېښنو لاملونه د مخدره توکو قاچاق، په منځنۍ آسيا کې توندلارې ډلې، د طالبانو له‌خوا د چيچنيا په رسميت پېژندلو ستونزه او داسې نور وو. له همدې کبله هغوی غوښتل، چې په دې اړه له طالبانوسر ه اړيکې ټينګې کړي.

په ټوله کې، که څه هم د طالبانو د دورې پرمهال د طالبانو او روسيې اړيکې خرابې وې؛ خو بيا هم ځينې تماسونه موجود وو؛ مګر په ۲۰۰۰ ميلادي کال کې بيا دا تماسونه هم، د طالبانو له‌خوا د چيچن په رسميت پېژندلو سره پرې شول.

[1] د نورو معلوماتو لپاره ولولئ: وحيد مژده، افغانستان در پنج سال سلطۀ طالبان، تهران: نشر، ۱۳۸۲.
[2] تېر ماخذ.

## طالبان-روس اړیکې؛ ۲۰۰۱-۲۰۱۴

کله چې په امریکا کې د سپټمبر د یولسمې بریدونه وشول او په غبرګون کې یې امریکا او ناټو په افغانستان بریدونه پیل کړل، نو روسیې هم نه یوازې دا چې د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې د طالبانو پرضد له بندیزونو هرکلی وکړ، بلکې په افغانستان یې د امریکایانو د بریدونو هرکلی هم وکړ. روسانو د ۲۰۰۱ کال د ډسمبر په ۲۸مه په کابل کې خپل سفارت بیا پرانیست، له افغان حکومت سره یې په نظامي برخه کې همکاري پیل کړه او له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۰۳ کال پورې جنرال قسیم فهیم او محمد یونس قانوني، چې هغه مهال د دفاع او کورنیو چارو وزیران وو، ماسکو ته سفرونه وکړل[3].

د حامد کرزي په دویمه دوره کې، چې د افغانستان بهرنی سیاست د ۲۰۰۲-۲۰۰۹ دورې په پرتله بدلون وموند او افغان-روس اړیکې هم د حامد کرزي په دویمه دوره کې د ده د لومړۍ دورې په پرتله ښې شوې. هغه مهال افغانستان د یوکراین په قضیه کې، د پښتونستان د قضیې او له امریکا سره د خرابو اړیکو له کبله، د روسانو له دریځ څخه هم ملاتړ وکړ. په دغه دوره کې دوه اړخیز تجارت هم زیات شو او په ۲۰۱۳ کال کې تر یو ملیارد ډالرو پورې ورسېد[4].

د طالبانو د نظام له ړنګېدو وروسته، د طالبانو او روسیې ترمنځ په ۲۰۰٦ او ۲۰۰۷ کلونو کې بیا ځینې تماسونه وشول، چې هغه هم منځنۍ آسیا ته د مخدره توکو د قاچاق په اړه د همکارۍ غوښتنه وه. وروسته، چې کله په ۲۰۱۳ کال کې د روسانو یو پیلوټ د طالبانو لهخوا ونیول شو، نو د روسانو لهخوا ضمیر کابلوف له طالبانو سره په دې تړاو خبرې اترې پیل کړې او له تقریباً یوه کال مذاکراتو وروسته طالبانو روسی پیلوټ خوشی کړ[5]؛ خو بیا هم په مجموع کې هغه مهال د طالبانو او روسیې ترمنځ اړیکې ډېرې ګرمې او ښې نه وې او یوازې به ځینې مهال روسانو له طالبانو سره د ځینو مسائلو په اړه تماسونه نیول.

---

[3] له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې د افغان-روس اړیکو لپاره ولولئ، د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل ۱۱۸مه ګڼه، د افغانستان په لور د روسیې زیاتېدونکې لېوالتیا: http://csrskabul.com/pa/blog/%D8%AA%D8%AD%D9%84%D9%8A%D9%84-%D9%87%D9%81%D8%AA%D9%87-%D8%B4%D9%85%D8%A7%D8%B1%D9%87-%DB%B1%DB%B1%DB%B8-%D8%A7%D8%B2-%DB%B2%DB%B6-%D8%AB%D9%88%D8%B1-%D8%A7%D9%84%DB%8C-%DB%B2-/%D8%AC%D9%88%D8%B2

4 Thomas Ruttig, From Point Zero to 'New Warmth': Russian-Afghan relations since 1989, Afghanistan Analysts Network, 2014.

[5] د طالبانو او روسیې د اړیکو په اړه د نورو معلوماتو لپاره وګورئ: د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز، د اوونیز تحلیل ۱۴۲مه ګڼه: http://csrskabul.com/pa/blog/%D8%AA%D8%AD%D9%84%D9%8A%D9%84-%D9%87%D9%81%D8%AA%D9%87-%D8%B4%D9%85%D8%A7%D8%B1%D9%87-%DB%B1%DB%B4%DB%B2-%D8%A7%D8%B2-%DB%B2%DB%B3-%D8%A7%D9%84%DB%8C-%DB%B3%DB%B0-%D8%B9%D9%82%D8%B1%D8%A8/

## داعش ډله؛ ګډ ګواښ

په عراق او شام کې د اسلامي دولت ډلې یا داعش ظهور په منځنۍ ختیځ کې د روسیې ګټې له ګواښ سره مخ کړې، چې له همدې کبله یې په سوریه کې د بشارالاسد له رژیم څخه ملاتړ لا زیات کړ او له څه مودې راهیسې یې په دغه هېواد کې پر داعش ډلې هوایي بریدونه هم پیل کړي دي.

له تېرو دولسو میاشتو راهیسې د روسیې لوړپوړو چارواکو په افغانستان کې د داعش ډلې د شتون په اړه خبرداری ورکړی او په بېلابېلو وختونو کې یې په دې اړه څرګندونې هم کړې دي[6]. دوی د داعش موخه د روسیې پولو ته نږدې کېدل او د روسانو متحدین ګواښل ګڼلې دي. له داعش سره د روسانو تړلې اندېښنې لاندې عوامل لري:

**لومړی**؛ د داعش په لیکو کې د منځنۍ آسیا او روس نژاده توکمونو شتون؛

**دویم**؛ له داعش ډلې سره د منځنۍ آسیا د ځینو وسلهوالو ډلو بیعت (لکه د ازبکستان اسلامي غورځنګ، د اسلامي جهاد یووالی او جماعت الانصار ډلې)؛

**دریيم**؛ خپله د داعش ډله د روسیې د امنیت لپاره ګواښ؛

**څلورم**؛ په منځنۍ آسیا او منځنۍ ختیځ کې د دغې ډلې شتون د ماسکو ګټې ګواښي؛

په بل اړخ کې طالبانو په پیل کې له داعش سره خورا محتاطانه چلند وکړ؛ خو کله چې د طالبانو ځینې مشران په دې ډله کې جذب شول او د دوی ترمنځ وسلهوالې نښتې هم وشوې، نو طالبانو په رسمي ډول د داعش ډلې مشر ابوبکر البغدادي ته یو لیک واستاوه خو د دغه لیک په ځواب کې داعش خورا تونده غبرګون وښود. په دې توګه د داعش او طالبانو ترمنځ اختلافات نور هم پراخ شول او اوس د دوی ترمنځ نه یوازې دا چې د "امیر" د مشروعیت پر سر لانجه ده، بلکې په یو شمېر ولایتونو کې د دوی ترمنځ خونړۍ جګړې هم شوې دي. همدا لامل دی چې دا مهال روسانو د همدغه ګډ ګواښ د ځپلو لپاره، له طالبانو سره د اړیکو مزي غځولي دي.

[6] دریيم ماخذ.

## پر افغان سیاسي-امنيتي منظره د داعش ډلې اغېزې

له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې د هېواد امنيتي او سياسي منظره تقريباً يو ډول وه او ډېری هېوادونو په تېره بيا د امريکا مخالفينو (روسيې او ايران) هم د طالبانو پرضد له افغان حکومت او امريکايانو څخه ملاتړ کاوه؛ خو په افغانستان کې د داعش ډلې د فعاليتونو له پيل سره، په هېواد کې سياسي او امنيتي منظره هغسې پاتې نه شوه، څنګه چې له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې وه.

د داعش ډلې له راتګ سره، د دولت د وسلهوالو مخالفينو ترمنځ اېتلافونه او يووالی هم اغېزمن شو. حزب اسلامي (حکمتيار) خپلو پلويانو ته د طالبانو او داعش د احتمالي ټکر پر مهال د داعش د ملاتړ سپارښتنه وکړه (که څه هم وروسته يې دا خبره په يو ډول رد کړه او له داعش ډلې سره په جګړه کې يې د افغان حکومت ملاتړ هم اعلان کړ)، د ازبکستان اسلامي غورځنګ له طالبانو څخه په جلا کېدو سره، له داعش ډلې سره بيعت اعلان کړ او خپله د طالبانو له ليکو څخه هم يو شمېر کسان د داعش په ليکو کې ورګډ شول (لکه عبدالرووف خادم، چې د داعش ډلې د خراسان ولايت مرستيال وټاکل شو او بيا په هلمند کې د يوه بريد په پايله کې ووژل شو).

په نړيواله کچه هم داعش په افغانستان کې سياسي منظره بدله کړه او په لومړي ځل يې ايران او روسيه طالبانو ته نږدې کړل؛ ځکه درې واړه لوري داعش ډلې ته د يوه ګډ ګواښ په سترګه ګوري.

## د طالبانو-روسيې تماسونه او پر کابل-ماسکو اړيکو يې اغېزې

د افغانستان لپاره د روسيې ځانګړي استازي ضمير کابلوف په لومړي ځل له طالبانو سره د تماسونو خبره کړې او ويلي يې دي، چې د داعش پرضد مبارزه کې يې د همکارۍ په موخه له طالبانو سره تماس نيولی دی. که څه هم طالبانو په خپله اعلاميه کې د داعش په اړه له روسيې سره تماسونه او اړيکې رد کړې خو د سيمې له يو شمېر هېوادونو سره يې د تماسونو نيول نه دي پټې رد کړې[7].

په بل اړخ کې افغان حکومت په رسمي ډول د بهرنيو چارو وزارت له لارې د دا ډول څرګندونو ځواب نه دی ورکړی او نه يې په دې اړه د روسيې سفير احضار کړی؛ خو په ولسي جرګه کې ځينو وکيلانو پرې نيوکې کړې او

---

[7] په دې اړه د طالبانو بشپړه اعلاميه دلته ولولئ: http://alemara1.org/?p=37360

د افغانستان د دفاع وزارت وياند هم په خپل غبرګون کې ښرګنده کړې، چې دا ډول اړيکې دوی ته د منلو وړ نه دي.

دلته د طالبانو او روسيې تماسونه دوه احتمالونه لري. يو احتمال هغه دی، چې خپله روسان پرې ټينګار کوي او بل احتمال بيا د روسانو تېرو تجربو او د سيمې جيو-پوليټيکي بدلونونو ته د کتلو له کبله دی.

**لومړی احتمال:** د ضمير کابلوف د همدغو خبرو په تړاو، د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال حکمت خليل کرزي په بهرنيو چارو وزارت کې د روسيې له سفير سره وکتل او له هغه يې توضيحات وغوښتل. د روسيې سفير په ځواب کې وويل، چې د ضمير کابلوف خبرې ناسمې تعبير شوې دي؛ ځکه د هغه د خبرو موخه يوازې همدا وه، چې له طالبانو سره د روسيې لېوالتيا يوازې د داعش پرضد مبارزه کې همغږي ده او له طالبانو سره يې تماس د افغانستان د سياسي حل په تړاو و، ځو افغان حکومت له خپلو وسلهوالو مخالفينو سره قضيه حل کړي[8].

ورته خبره طالبانو هم په خپله اعلاميه کې کړې، چې دوی "د امريکايي اشغال" د پای ته رسولو لپاره د سيمې له ګڼو هېوادونو سره تماسونه نيولي او نيسي يې.

په افغانستان کې اوسمهال د روسيې ګټه دا ده، چې د داعش مخنيوی وشي او دا هغه مهال ډېره شونې ده، چې په هېواد کې روانه جګړه نوره پای ته ورسېږي، افغان طالبان له حکومت سره روغې جوړې ته تيار شي او امريکا له سيمې ووځي.

له همدې ځايه ده، چې ضمير کابلوف له خپلو لومړنيو ښرګندونو وروسته بيا ويلي، چې روسيه چمتو ده پر طالبانو د ملګرو ملتونو د بنديزونو د احتمالي کموالي ملاتړ وکړي؛ خو په دې شرط چې دغه مسئله د افغانستان له ملي ګټو سره په ټکر کې نه وي. د دې ترڅنګ يې د افغان حکومت د سولې او روغې جوړې له تګلارې هم ملاتړ کړی دی[9].

**دويم احتمال:** دويم احتمال دا هم دی، چې روسيې له طالبانو سره د لاندې عواملو له کبله اړيکه ټينګه کړې وي:

---

[8] په افغانستان کې د روسيې د سفير او د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت د مرستيال ترمنځ د ناستې په اړه، د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت رسمي اعلاميه: http://mfa.gov.af/fa/news/deputy-foreign-minister-meets-the-ambassador-of-the-russian-federation

[9] په دې اړه ولولئ، د ازادی راډيو دا خبر: http://pa.azadiradio.org/content/article/27456738.html

**لومړی:** له څه مودې راهیسې د ولسي جرګې لومړی مرستیال محمد ظاهر قدیر او یو شمېر نور غړي، بهرني ځواکونه او حکومتي کړی په تېره د ملي امنیت شورا د داعش ډلې پر ملاتړ تورنوي. په ولسي جرګه کې د ننګرهار استازي حضرت علي ادعا کړې چې بهرنیو الوتکو د داعش وسله‌وال ښکته کړي او د دغه ولایت د بهسودو ولسوالۍ اوسېدونکو هم ویلي چې بهرنیو الوتکو د تور غره په لمنو کې ناسته کړې او مخپټي وسله‌وال یې ښکته کړي دي. په دې تړاو حکومتي چارواکو د څېړنو خبره کړې، خو خلک پوهیږي چې د چارواکو څېړنې له خلکو د موضوع د هېرولو په معنا دي او په دې توګه حکومت لاهم دغو تورونو ته وړ ځواب نه دی ویلی.

دغو تورونو ته په کتلو سره داسې ښکاري چې روسیه به د داعش پرضد مبارزه کې د افغان حکومت په هڅو شکمنه شوې وي او له همدې کبله غواړي، چې د خپل امنیت لپاره د ګوانډ کمولو په موخه له طالبانو سره په نېغ ډول اړیکه ونیسي.

**دویم:** روسیه د سیمې او نړۍ حالاتو ته په کتو سره غواړي، چې د افغانستان په داخلي چارو کې په نېغ ډول لاسوهنه وکړي او دلته د امریکا ګټې له ګواښ سره مخ کړي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.